**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیر محمد کاروان
۲۰۲۳/۰۹/۱۴

# کاڼی ومه تور

## خو اوس له شوقه شین غمی یمه

ښار د هوښیارانو دی او زه د غره سړی یمه
تورې زولنې راپسې ګرځې لیونی یمه

ورکې مې تسبې دې د زنځیر په کړی ذکر کړم
زر ځله شهید یمه او زه زر ځله ژوندی یمه

ښبلې مې خپل غزل د تورو وینو لپه ده
نه یمه شاعر، نه د غاټولو کنډولی یمه

ما نه شیشې مه تاووه زه خو څه څراغ نه یم
نه مرم په طوفان کښې عجیبه اور اورکی یمه

تا په سپینو لاسو باندې سین ته ورګوزار کړمه
کاڼی ومه تور خو اوس له شوقه شین غمی یمه

ځان مې په مریو کښې د تار غوندې پټ کړی دی
زه د کومې چټې پر ټټر باندې ځوړندی یمه

کوڼ که وي جرس نو خپل ویده کاروآن به ویښ کړمه
مات به شم په شرنګ د لیونی د لاس بنګړی یمه

پیر محمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ